# دغني خان په شاعرۍ کښې د حسن اوعشق ازانګې

**Reflection of Beauty and affection in the poetry of Ghani Khan**

ډاکټر نصر الله وزير

Abstract: The writer of this article focused the universal beauty and love found in the poetry of Ghani Khan. Mainly he strived to compare the philosophy of beauty and affection found in his poetry. It is also elaborated that although these are main subject matters of his poetry yet the affection shares more as compared to the beauty because affection plays pivotal and motivational role.

Considering the two main thoughts regarding beauty and affection in which one of them favours beauty but the other is of the view that affection plays motivational role.

Keeping in view the poetry of Ghani Khan affection is given preference as compared to beauty.

د عشق بنيادي محرك حسن يا جمال دی ولې حسن يا جمال خو هم داسې څۀ سالم ليدونکی شی نۀ دی چې هغه دې پۀ سائنسي توګه يا دعقل په زور بشپړ کړی شي، حسن داسې لامحدود تصوردی،چې دهغې بيان او وضاحت دانسان ايجاد کړل شوي محدود الفاظو کښې راوړل يو ډېرناممکن کار دی،اوچاهم چې د دې ذهني، فکري او نفسياتي فعل د رابرڅېره کولو لړ ډېره تابيا کړې ده نو ئې دا ارمان په زړۀ پاتې شوی چې الفاظ له ماسره مرسته نۀ کوي ګني په ذهن کښې يوداسې کيفيت لرم چې دهغې په سبب زما حواسِ خمسه په داخل کښې يو جهان داسې رنګينۍ رغوي،چې له بيان څخه ئې زۀ عاجز يم. ځکه چې دالفاظولنډه او تنګه لمن ددې جوګه نۀ ده چې دحسن بې شانه پراخ تصوردې دحروفو په دې نيمګړي جهان کښې راغونډ کړی شي.په هر زمان د وخت پوهانو دا زيار ايستلی دی يو نه يو حواله نورو ته دا وښی چې حسن يا جمال څۀ شی دی او دا څۀ رنګه واقع کېږي؟ خو په ختمي توګه يو څوك هم داسې نۀ دی بريالی شوی چې هغه دې دا وښی چې هم بس دا حسن دی او دا ياهغه کيفيت لري. ولې بيا هم چاچې ددې متعلق څۀ هم وئيلي هغه د حسن او

جمال د اجزاو تعريف خو کېدلی شي نۀ چې مکمل د حسن تعريف.ځکه چې چا هم کوم شی په کوم انداز وليداو دهغۀ له کوم اړخ څخه هغه متاثره شو نو هغه ته ئې حسن يا حسين ووئيل.پرته له دې د حسن يو جامع تعريف وړاندې کولو کښې يو بل مشکل له دې کبله هم پېښېږي چې په دې کښې دانساني فطرت مطابق ؤ هر چا ته د خپلې علاقې، عرافيې، ماحول، قوميت او دآب وهوا مطابق دخوښې او ناخوښې مسئله هم وړپېښېږي، ځکه چې هر نسل ځانته خپل دښکلا معيارونه اودهغې قدرونه لري،لکه د سپين پوستکي نسل خلق چرې هم په تورانو کښې دخپل حسن لټون نۀ کوي او دغسې دزيړ پوستکي نسل خلق کله هم په غنم رنګوکښې دخپل فطري حسن داحساس هغه نخښې نخښانې نۀ لټوي کومې چې دوئ ته په خپل نسل کښې ميسرې وي.نو له دې کبله حسن يا معيار حسن يواځې پۀ رنګ کښې نۀ دی بلکې داديو داسې غېرمرئي احساس نوم دی کوم چې محض ليدونکی محسوسولی شي ،دامحسوسات تر داحده پورې مجرده وي چې په الفاظو کښې ددې بيان کله هم په بشپړ ډول نۀ شي کېدی،البته په جزوي توګه ددې تشريح په يو نه يو ډول ضرور کېدلی شي. نوپۀ دا اړه دحسن قطعي تعريف خونۀ شي وړاندې کېدلی ،خو دحسن متعلق تر ډېره حده دا معقوله وښا ده چې ،جماليات يوپرله پسې روحاني عمل دی چې دژوندتولو قدرونوته ښکلا بخښي بغېر دجمالياتو نه ژوند هېڅ معنی نۀ لري، . . .هر هغه شی چې مونږ ته ښۀ ښکاري ،هر هغه فعل چې مونږ ئې ښۀ ګڼو او هر هغه احساس چې مونږ ته تسکين راکوي حسن دی،نو ځکه مونږ وئيلی شو چې ژوندپه جمالياتو قائم دی اوجماليات دژوندنه بغېر څۀ معنی نۀ لري". (1)

د تصورجمال سرچشمه په خپله له جمالياتي حس او له جمالياتي ذوق څخه ماخوذ ده، لکه څنګه چې جمالياتي حس په خپله دانسان په وجود کښې ديو عالمګير او فطري شي نوم دی هم دغسې جمالياتي ذوق د هر انسان دځانګړي کيفيت نوم دی کوم چې په هر انسان کښې په يو نه يو حواله موجود وي.ولې هر څوك دا په خپل خپل انداز سره محسوسوي، که

څۀ هم ځنې علماپه دا رائې دي چې جمالیاتي حس په ټولو انسانانو کښې په یو رنګه وي ،البته فرق ئې دانسان په سوچ اوفکر اودوخت او حالاتوپه تقاضو پورې دی،خوکه مونږ دې خبرې ته پام وکړوچې کله نه کله مونږ په عام روزه کښې له یوبل څخه اورو چې پلانی ډیر بې ذوق یا پلانی ډیرباذوق انسان دی،نودلته له دې څخه دذوق د درجه بندۍ تصور راولاړیږي اودغسې جمالیاتي ذوق په چا کښې کم او په چا کښې زیات کېدلی شي.او هغه ، ،سړی چې ذوق نۀ لري نو یو حسین او جمیل شی پۀ دۀ زیات اثر نۀ شي کولی،دحسن نه اثر او خوند اخستو دپاره بنده ته په کار دي چې هغه دې لازمي طورسره دښکلا ذوق ولري".(2)

څنګه چې مونږ دحسن دپاره داسې عام پیمانې نۀ لرو چې ئې پرې کچ کړو،ځکه چې دا د یو داسې کیفیت نوم دی چې دا اظهار په پیرایوکښې ئې وړاندې کول ګران دي.

دحسن یا جمال متعلق چې کوم نظریات پېش کړل شوي دي ،هغه واړه په خپل ځائ اهمیت لري،خوله دې څخه یو څو که غوره یا ورته زیات قبولیت حاصل دی نوهغه یوه معروضي اوبله موضوعي ده.ددې ترڅنګ ځنې پوهانودمابعدالطبیعات نظرئې ته هم فوقیت ورکړی،چې ددې په اساس مابعدالطبیعاتي حسن ته ئې حسنِ ازل هم وئیلې ، ، ،دجمالیاتویوه بنیادي مسئله دفطرت او دفن دحسن څېړنه ده خوبعضې مفکرینوپه خپلوجمالیاتي نظریاتوکښې حُسنِ ازل هم څېړلی دی ، . . . ددغه نظرئې له مخه حسن د ذات باري تعالیٰ یو صفت دی او صرف هغه شی حسین دی چې هغه په څۀ نه څۀ شکل کښې دحقیقت اولی سره تعلق لري"(3)

دغسې دانظریه که نوره سره وسپړله شي نو ددې ریښې بیاهلته تصوف ته رسي کوم چې حُسنِ ازل دوجود او شهود په دائرو کښې دلیدلو تابیا کوي. خوهغه څوك چې له فنونِ لطیفه څخه څۀ علاقه نۀ لري اودجمالیات له اصولوڅخه هم نا خبردي،هغه هم پوهېږي چې حسن یواځې دشونډوپه سُرخیو،د زلفوپه اداو کښې ،دملا په نزاکت کښې

اودرخُسارو په لطافت کښې نۀ دی، بلکې حسن په اصل کښې هغه چهب دی کوم چې داعضاوله تناسب څخه پيدا کېږي، هر سړی په داپوهېږي چې بعضې وخت په يوه صنف نازك کښې دمظاهر حسن درست لوازم موجود وي، خو دهغې باوجود بياهم په هغه کښې هغه سج دهج يا چهب نۀ وي، دکوم په سبب چې څۀ ره اوجسم دواړه روڼاکېږي، نو ددې تعلق نۀ خو له رنګ سره دی او نۀ په ظاهري خدوخال سره.بلکې دا دجسمي تناسب يا داهنګ دويم نوم دی.دا جسمي تناسب، اهنګ يا چهب ځنې وخت هر چا ته په نظر نۀ ورځي، کله داسې هم کېږي چې محض ذوق سليم ددې مشاهده کوي (چې تناسب د حسن دويم نوم دی)، ـــ ـ ـ نزاکت د ملا، اوږدوالی دزلفو اودراز قد څۀ بشپړ حسن نۀ دی بلکې حسن ددې ټولو شيانو څخه ماورا دی"(4)

په پښتو شعر اوادب کښې که څۀ هم د پير روښان په وجه د روښانيانو په نثر يا اشعارو کښې د حسن يا د حسن ازل په باب بې شانه ډېر افکار خپارۀ شوي، ولې په حقيقي معنوکښې ستر خوشحال باباهغه زمانه سازشخصيت دی چې په پښتو شعراوادب کښې ئې دحسن ازل سره سره دحسن مجازي ملغلرې هم عام کړې.د پښتوادب دا دواړه نوميالي شخصيات چې دپښتو ادب په تاريخ کښې د دوو جلا مکتبونو خاوندان دي اوپښتوته ئې د فکر او فن په حواله ډېر څۀ بخښلي، خو د حسن متعلق د دوئ په افکارو کښې چرته داسې واضح تعريف نۀ دی په ګوته شوی چې هغه دې ځان ته د نمونې په توګه وړاندې کړی شي، البته دشعر په ژبه خپله خوشحال بابا اوهم دهغۀ دکورنۍ ډېروشاعرانو د هر قسم حسن په حقله ډېر څۀ وئيلي دي.هم دغسې دپښتوادب د شلمې پېړۍ د شاعرانو په اشعارو کښې دحسن ازل يا حسن مطلق اوحسن مجازي په حقله ښکلې نمونې وړاندې کېدلی شي.

دشلمې پېړۍ دپښتوادب له داسې شاعرانو څخه چې هغوئ دحسن په نزاکت اوباريکۍ پوهېدل اوشعوراً ئې غوښتي چې دفطرت دپرېمانه حسن ننداره په ويړيادخپل فن په ليارہ اولس له وړاندې کړي ،يوعبدالغني خان هم وو.که څۀ هم دی په دې نۀ دې بريالی شوی چې

دحسن دې يو مکمل يا جامع تعريف وړاندې کړی شي، خودخپل استعداد مطابق ددې په واضح کولو کښې ترډېره حده ضرورکامياب شوی.حسن چې ئې ځوك په خپل ځان کښې يعنې په داخل کښې ګڼې اوځوك ئې په خارج کښې يا په بله معنی د معروضي اوموضوعي نظرئې قائل دي ولې غني خان حسن ،حسن ګڼي هغه که په هر صورت کښې ظهورپزير شي ،لکه د دهٔ دا لاندېني اشعار دمثال په توګه وځيرئ :

"خړ که خړاګۍ وي او که توروي که سپين
حسن هغه شی دی چې کړي تاپه ځان مئين
که پټ وي که ښکاره، دادحسن کرشمه
صحراکړي تول باغونه اوګلونه اوچمن (۵)

خوکه د حسن د ځلا دپاره ديو داسې محرك ضرورت وي چې هغه نهٔ يوائې دا و ځلوي بلکې په هغه کښې دې يو داسې تحريك پيداکړي چې هغه دخپلوډېرو هم صنف شيانو په مقابل کښې لوړ ارزښت ولري ،اوهغه شی چې حسن په دې اوصافو منورکوي هغه يوائې عشق دی.اوعشق هغه عالي شانه مرتبه ده چې ئې له سببه ډېر نازنين ترننه په جهان ياد دي.لکه چې خوشحال باباوائي:

شوراوشربه درانجاپه جهان نهٔ وی
که دهيرصورت پيدانهٔ وی په شورکښې

ځکه خووائي چې حسن اوعشق يوبل ته لازم اوملزوم دي .
اوغني خان هم ددې قائل دي چې:

ستوري ته اسمان کښې يوه ورځ ووې هلال
خدای ادم له مينه ورکړه مونږ له تش جمال
زهٔ به په خنداورکړم داخپل ښيست داکمال
ماله که يوڅاڅکې مينه راکړي څوك په سوال (۶)

عشـق خـو هـم د حسـن پـه څېـر پـه خپلـه څـۀ داسـې وجوديـا کـوم سـالم صـورت نـۀ لـري چـې دې دا وربانـدې وپېژنـدل شـي، بلکـې ددې اصـل محـرك خـو هـم دغـه حسـن دی.خـو داد يوداسـې جذبې،دتحريك،وجـداود داخلـي کيفيـت نـوم دی کـوم چـې ديـو انسـان پـه درسـت داخلـي او بـاطني کيفيـاتو غالبـه مـومي اوانسـان مجبـوره کـړي چـې دې ددې تـابع شـي. پـه دې کښـې د عقـل اوفکرتـولې لـړی دجـذباتو پـه بهيـر کښـې سـره ورکـه شـي .عشـق هـم بـالعموم دوه صـورته لـري يوهغـه چـې دنفـس مطمينـه تحـت وي او بـل هغـه چـې دنفـس غېـر مطمينـه دپـاره کېـږي،عشـق هغـه مقدسـه اوفطـري اصـطلاح ده چـې ډېـرو کمـو خلقـو تـه ورپـه برخـه کېـږي ، داکـه يوخواتـه دنسـل انسـاني دبقاضـامن ګرځېـدلې ده،نـوبلې خـوا ددرسـت کائنـات د وجـود سـبب خـو هـم دا عشق دی،لکه عبدالرحمن بابا چې وائي:

داجهـــان دې خـــدائ لـــه عشـــقه پيـــدا کړی
دجملـــــــــوو مخلاقـــــــــــاتوپلار دی دا

غني خان هم دغه عشق دکائنات دتسلسل اوديويار دميني موج ښائي:

مينـــې ديـــار مـــوج ووکه،ښائســـته شـــو جهانونـــه
جوړشــــوترې ګلونـــــه اوخنــــدا او اميدونـــــه
اودغـــه اميدونـــه چـــې دمينـــې ســـره مـــل شـــي
جـــوړ تـــرې نـــه ادم کـــړي دبچـــو ځـــان لـــه مخونـــه
دغــه کــه تــرې ورواتــۀ نــوجرړه بــه ئــې خــاورې شــي
خلاصـــه بـــه قيصـــه شـــي د ادم او بـــوره خونـــه (۷)

دعشـــق متعلـــق وئيـــل کېـــږي چـــې: "عشـــق يـــو انتهـــائي شـــوق دی چـــې مکمـل هـم اهنګـي او اتحـاد تـه اړتيـا لري،نوپـه دا توګـه عشـق کـه پـه هـر کـوم صــورت کښــې ووسي،مخکښــې وړ حالــت تــه اړتيــا لــري، ..... پــه حقيقــت کښــې دعشــق ســبب خــو هغــه اتفاقــات دي کــوم چــې دعاشــق اومعشــوق ترمنځـــه وارد يـــږي اوداپـــه يونېـــب او زيـــات مقـــدار ســـره وي،لـــه دغـــه

اتفاقاتو څخـه هغـه مناسـبتونه هـم دي کـوم چـې د هـر حساسـه او د هغــې د محسوساتو تر مینځه وي" (۸)

هـم پـه دغـه حوالـه دغنـي خـان فکرتـه پـام وکـړئ چـې هغـه مینـه اوحسـن په کوم نسبت سره تړي:

مینــه حســن جــوړکړي بیــاپرې شــي مینــه مئینــه
مینـــه لېـــونۍ ده لېـــونۍ ده مینـــه مینـــه
چـرې مــې دا خیــال وو چــې ښائیســت، ځـواني، نیــاز
پــټ دي بــس دوئ کښــې دشوق،عشــق اوطلــب راز
لـــوړه لـــوړه دځــــان مړولوخُــــوب دی عشــــق
دا دی د ادم او د حـــــــوا د ســـــــــترګو راز
مینــه جومــات جــوړکړي پــه تیــرو کښــې دخپـل غمـه
مینــه پــه مســتي ښائســت کــړي جــوړ دخپــل صــنمه
بیاپـــه ســـجدوټیټه شـــي،درانه پـــه ګلـــو ونـــه
مینــه حســن جــوړکړي بیــاپرې شــي مینــه مئینــه (۹)

دغنـي خـان دحسـن اوعشـق تصـوردهغۀ دمـزاج مطـابق ښخـي مشـرقي طـرز درلـود ،او د یـو مسـلمان پـه حېثیـت د دۀ دمینـې سرچشـمه دهغـه ذات پـاك مینـه ده چـاچې دي لـوئ کائنـات تـه دا دومـره بـې شـانه رنګـا رنګـي وربخښـلې ده ،خـو د دۀ دمحبـوب تصـوردنورو پـه شـان هغـه روایتـي نـۀ دی کـوم چـې مـونږ دځنـې عشـاقوپه جهـان کښـې وینـو،بلکې د دۀ محبـوب او لـه هغۀ سره د دۀ مینه څۀ دا ډول ده چې:

زۀ ئـې پـه غـرور در نـه د مینـې پـه نـوم غـواړم
زۀ ملنــګ بــې نیــازه ســتا د ویــر واوئــیلا نــۀ یــم
یــو دســپوږمۍ ښــاخکې درنــه ټیــك لــه یــارغواړم
زۀ یـــــم دخوبونو،دلالونـــــو ګدانـــــۀ یـــــم
هغــه مســتي غــواړم چــې ئــې مــرګ نـۀ شـي وژلـی
زۀ دې د غمونـــو د بېګـــا او ســـبا نـــۀ یـــم (10)

په حسن کښې غني خان دپښتني حسن شيدائي دی، ځکه چې دهٔ خو هم په دغه ماحول کښې ژوند کړی، دلته زيږدلی او هم دلته ئې وينه توده شوې ده. ددې وطن دساده باده خړو افغانانو دحسن ئې ستائيلی، ددوئ طرز ژوندې غوره اولوړ ګڼلی، که څهٔ هم دهٔ د يورپ ښکلي، ښائيسته او رنګينه دنيا هم ليدلې وه، دامريکې په دنګواولوړو ماڼيو هم راګرځيدلی وواو دهند دتاج محل ښکلي منظرونه ئې هم ليدلي وو ولې بياهم دهٔ بيرته دخپل وطن دخاورو په کچه کورونو کښې ژوند ته فوقيت ورکړی:

ماليـــدلي محلونــــه دلنــــدن
جينکـــې مســـتې ازادې ګـــل بـــدن
ماليـــدلي داټلـــي ښائســـته ښــــهرونه
سرهٔ ئې انګور، سرهٔ ئې شراب اوسرهٔ ئې ګلونه
ماليـــدلي دپيـــرس ښـــاپيرۍ ښـــکلې
پــــه کردارګفتـــارخوږې لکــــه بلبلـــې
ماليـــدلي امريکـــه کښــې دي ښـــهرونه
چـــې ورئځوتــــه ئـــې رســـي مکانونـــه
ماليـــدلی تـــاج محـــل غـــوټۍ دګلـــو
ددهلــــي ښـــکلي ښـــهرونه دمغلـــو
خــــوچې وويـــنم زهٔ خپـــل دختـــو کـــور
رانـــه هيـــر شـــي محلونـــه ښائيســـته نـــور
چـــې خـــړ مخـــې وروروپښـــتون ســـينې لـــه درشـــي
درنـــه هيربـــه ټـــول ښائيســـت دبحروبرشـــي (۱۱)

په عمومي توګه ځنې فن کاران حسن دانساني وجود په بيله بيلو اندامو کښې دنزاکت دژورتيا اودتناسب دلوړتياپه انداز لټوي، يا صنف نازك دحسن محور ګڼي، ولې حسن ددې پرته دکائنات په زره زره کښې موجود دی، خولټون له ورته ديو باريك بين نظر ضرورت وي.

دغني خان په افکارو کښې دمعروضي حسن او دموضوعي حسن ښکلې ميلاپ ليدل کيږي، يعني غني خان دحسن قائل دی هغه که په هر

صورت او هر څۀ کښې وي.کـه څۀ دۀ هم دنورو شاعرانو پـه څېر دانسان دکړو وړو لکـه څېره،سترګې،شونډې،رخسـار،قد و قامت اوزلفـې وغېره پـه نـوي نـوي تشـبيهاتو سـره سـتائيلې، خـو ورسـره ورسـره ئـې دبـاز اوشـاهين لـوړ صـفات ،دګـرګس اودګيـدړ کمـزوري کردارونـه او يـا پـه انسانانوکښـې ځنې منفـي کردارونـه هـم پـه نخښـه کړي.خـو داخبـره واضـح ده چـې غنـي خـان بې دوجـود نـه دحسـن دنظرئـې منـونکى نـۀ دى.لکـه د دۀ لـه دې شعر څخـه پـه ډاګه کېږي:

حســـن ښـــکارېدوله يـــو وجـــود يـــو شـــکل
حســن چــې ښــکاره شـي،مينه ووينـي مئينـه شـي
بـــې وجـــود حســـن مينـــه نـــۀ شـــي جـــوړولې
مينـه هالـه جـوړه شـي چـې مينـه راپيداشـي (۱۲)

کلـه چـې غنـي خـان حسـن پـه انسـاني صـورت کښـې سـتائي نـو هلتـه بيـا نېغ پـه نېغـه دخپـل محبـوب درنګ،ښـکلې جوسـه، سـترګې، قـد و قامـت اودهغـې نـاز تـه بيـا ډول ډول تشـبيهات راوړي.لکـه پـه دې اشـعارو کښـې چې هغه دخپل محبوب څۀ ډول نزاکت ښائي:

ســـتا د سترګوجانانومســـرورو خونـــد
ســـتاد شـــونډو غوټـــواو مغـــرورو خونـــد
ســـتا د ګوتـــو لېمـــو او مخمـــورو خونـــد
کـــړي پيکـــه دشـــرابو او حـــورو خونـــد

د محبـوب ښـکلې سـترګې او دهغـۀ نـاز و انـداز چـې څـۀ ډول سـتائې هـم ديادولو وړ دي، لکه په دې اشعارو کښې چې هغۀ بيان کړي.

داښـــکلې کاتـــۀ ،پـــه نيـــاز کاتـــۀ
دا ورو نـــازک، پـــه انـــداز کاتـــۀ
دالـــړو کښـــې تـــا دســـپوږمۍ دمـــخ
نـــرګس کښـــې نيـــازبين دايـــاز کاتـــۀ

دا مینــــــه رنګینه، داشــــــان اوشـــــرنګ
یــــو ســــوری دوخت، دخیـــال او رنــــګ
ســــــپړدل دګـــــلاب اوخنــــــدا دیار
کـــــاږۀ کاتـــــۀ ،پــــه رضـــا دیـــــار
انــــــداز دمســـــتۍ او تــــول دغــــم
ســـرې ســـترګې او شـــونډې زمـــا دیـــار(13)

د عاشـق او معشـوق تـر منځـه چـې کـومې سرګوشـیانې کېـږي، کـومې د راز او نیـاز خبـرې کېـږي ،د معشـوقې پـه نـاز خنـدا ،دهغې کـاږۀ واږۀ تلـل غـرض ځـۀ ځـۀ اداګـانې د معشـوقې نـۀ وي، کلـه ئـې او کلـه ئـې نه، کلـه دنـن وعـده او کلـه دسبا وعده، کلـه ورتـه پـه تـرخ کتـل او کلـه مخـامخ هـم نـۀ کتـل ،داواړه د عشـق واردات او کیفیـات دي چـې پـه اصـل کښـې د حسـن د ځلقولـو تابیـا کـوي، پـه "توبـه" نظـم کښـې غنـې خـان د خپـل دا قسـم نـاز او ادا ذکر ډېر په ښکلي انداز کښې راوړی.

دلـــــرې لـــــرې خلـــــق راغلـــــل تمــــام
دیـــــدن لـــــه ســـــتا دلـــــرې لـــــرې
زمایــــــادېږي ســــــتاوړې وړې خبــــــرې
دلبــــــرې مــــــدام دلــــــرې لــــــرې
خولـــۀ دې موســــکۍ ســــترګې غمـــازې
پــــه لچـــک لچـــک پـــه هـــوا ځــــې
زمـــا پـــه خـــوا کښـــې هـــم نخـــرې کـــړې
چـــې درنـــه تښـــتم هـــم نعـــرې کـــړې
کلـــه خنـــدا کلـــه ښـــېرې کـــړې
زمــــــاځوان زړۀ ذرې ذرې کــــــــړې
کلـــــه دې هـــــو کلـــــه دې نـــــا وي
کلـــــه دې نـــــن کلـــــه ســـــبا وي
پـــــه ژړا ســـــرې ســـــترګې زمـــــاوي
موســـــکۍ رنګینـــــې شـــــونډې ســـــتا وي (۱۴)

څـهٔ رنګـه چـې حسـن پـه اجـزاو کښـې داعتـدال او تناسـب پـه لويـه کچـه شـته منـي ده ،دغـه راز دغنـي خـان پـه افکـارو کښـې هـم ددې يـو سـتر معيـار ليـدل کېږي،دعشـق او حسـن پـه تقابـل کښـې غنـي دعشـق پـه نسـبت حسـن تـه تـرجيح ورکـوي ځکـه چـې تـر څـو چـې محبـوب ښائيسـته اوښـکلی وي تـر هغـه خـو زړهٔ ورسـره تـړل کېـدلی شـي ،ولـې هـر کلـه چـې ئـې دحسـن دوران تېرشـي نونـهٔ عاشـق عاشـق پـاتې شـي او نـهٔ معشـوقه هغـه معشـوقه ،اوترڅـو پـورې چـې پـه مـې خانـه کښـې ګـردش جـام روان وي ،پيـالې ډکـې څرخـي نـو محفـل ګـرم او طلـب دپيـالې هـرې خواورېـدل کېږي،ولـې هرکلـه چـې پيـالې پـه خـالې کېـدو شـې نـو دمحفـل رنـګ تغيـر واخلـي. دغـه راز غنـي خـان هـم دمحبـوب تـر هغـه شـېدائي دی چـې ترڅـوئې حسـن لـه دوام شـته،اوترهغه پيـالې اخلې ترڅـو چـې پيـالې اڅې ښـائي،ولې چـې غنـې پـه پيالـه مئـين نـهٔ دی بلکـې پـه شـرابو مئـين دی.دغنـي خـان دغـه تصـورد دهٔ پـه ،،بـې وفـا،، نـومې نظم کښې ډېر په ښکلي انداز بيان کړل شوی دی.

حسن حسن لټومه
که په غروي که په سمه
زهٔ په مينه مينه پايم
بې دمينې مرمه مرمه
تش کړې څڼلی نهٔ شم
چې خوند نهٔ وي دکبابو
زهٔ مئين په پياله نهٔ يم
زهٔ مئين يم په شرابو
پتنګ نهٔ څټې مومونه
چې دشمعې درڼا نهٔ وي
تورانۍ نهٔ وائې سندرې
چې مستي دسبا نهٔ وي
بې وفا که ديو يار يم
وفادار دمينې يمه (۱۵)

دحسـن سـيرت پـه مقابـل کښـې هغـۀ دصـورت حسـن تـه زيـات فوقيـت ورکړی،اودکائنات محورځان (انسان ) ګڼي ،نۀ چې بل څۀ .

زۀ يــم زۀ يــم ،رنګ،ســرور،اوور اوشــرنګار زۀ يــم
دجانـــان سترګوکښـــې مـــړاوې خُمـــار زۀ يـــم
داچـــې زۀ شـــم دمُســـکو شـــونډولړواله
ليلٰـــی جـــوړه کـــړم دحســـن معمـــار زۀ يـــم
داخـــوزۀ دځيګرســـوزپه هواســـورکړم
روح، مطلـــب، معنـــی اوازدســـتار زۀ يـــم
چـــې زۀ نـــۀ يـــم بـــې معنـــې جنـــت اســـمان دې
دجهـــان دســـوزاو مينـــې مختيـــارزۀ يـــم
دومـره پوهــ شـوم پـه دې وړوکـي غونـدې ژوندکښـې
يـــار زمـــا کمـــال، کمـــال د دلـــدار زۀ يـــم (۱۶)

پـه چـا کښـې چـې حسِ جمـال اوذوق جمـال نـۀ وې دهغـۀ مثـال دخـاروي اويـا دبـې سـا شـيانو دی، يـا پـه بلـه معنـی ګويـا هغـۀ دا نـړۍ ببخـي ليـدلې نـۀ ده،بـې دڅـۀ مقصـده دنيـا تـه راغـی اوتـرې نـه نـامراد ئـې مـخ جارايسـت .دې نـورې نـړۍ پـه نسـبت پـه پښـتني ټولنـه کښـې دفنـون لطيفـه اويـا دحسـن اوعشـق موضـوعاتوته څـۀ لـه چـې هغـه ډول ازادي نـۀ ده حاصـله لکـه پـه انـدازدنوروقومونو ،ځکـه نـو دلتـه دذوقِ جمـال اوحسِ جمـال هغـه ډول قدرونـه نـۀ ترلاسـه کېږي،کـوم چـې پـه نوروټولنوکښـې فهمېـدلی شـي.ددې سـبب خـو هـم هغـه ځنـې روايـاتي او مـذهبي مسـايل چـې لـه يـوې زمـانې پـه پښـتني ټـولني کښـې پـه تکـرار سـره روان دي.هغـه مخصـوص عنصـر چـې ددې پـه ليـار کښـې سـتر خنډ بلـل شـوی ،تـه غنـي خـان پـه خپـل فکـر کښـې داسې ګويانه دی، چې:

راشـــه راشـــه ســـاقي راشـــه
درې درې مُـــــــــــــلا درې
پـــه مـــا بانـــدې بـــدې لګـــي
ســـتا پـــاخې پـــاخې خبـــرې

غټه پګـه دې شـه خـاورې
عجيبـه تـه ځنـاور ئـې
تـه دميـنـې بـې خبـره
تـه دحسـن نـه منکـر ئـې
سـاقي سترګو کښې مسـکې شـوه
بيـائې دخيـال کښېښـوې وزرې
پـه تـول مسـته مسـته راغلـه
سـرې پـاپې ئـې دکمتـرې
سـتا اووه واړه جنتـه
ددې يـو دنـاز خبـرې
سـتا ځلويښـت زره کتابـه
ددې دوې خـوږې خبـرې
سـتااوږدې وعـدې دحـورو
دلتـه سـرې شـونډې شـکرې
ماشـوم نـه يـم چـې جنـت پرېـږدم
ستادسُـوردوزخ ديـرې
مُـلا تـا ځکلـې نـه دي
نـرې سـرې شـونډې کـافرې
سـتاپه غېـږ کښـې ناسـتې نـه دي
دکـالو ډکـې کمتـرې (۱۷)

پرتـه لـه دې غنـي خـان يـو رومانيـت پسـند شـاعر هـم وو، ځـه رنګـه چـې هغـه د ځـوانۍ پـه رومـانوي دوره کښـې ديـو رپ اوامريکـې پـه ډېـرو ښارونوکښـې ژونـد کـړی وو او دهغـه ځـائ رومـانوي فضـا او مـاحول د ده پـه زړه او ذهـن ډېـر ژور اغېـز شـيندلی ؤ، او ده هـم پـه دغـه مهـال هلتـه د جديـد مغربـي ادب ژوره مطالعـه کـړې وه ،د کومـو عکـس چـې د ده پـه فکـر او فـن کښې له ورايه برېښي،او هم د ده په شخصيت ئې ستر اثر درلوده .

نو په دا سبب د دهٔ په شاعری کښې دورډزورته په رنګ کښې دشاعرانه مصوری نقش ، دمستی او جنون څپې ئې دمشهور شاعر کیټس په طرزکښې او دکم عمر نازنینو د حسن او نازاوادا طرزئې دشېلې په اسلوب کښې واضح نخښې لري.خو په جدید دور کښې غني خان دپښتو هغه په زړهٔ پورې شاعر دی چې که یو خوا دخیام په رنګ کښې رنګ ښکاري ،نو د قومي سوچ او فکر لوړ پروازئې دخوشحال بابا په ډګر روان دی، ولې دهٔ په کُلي توګه دیو چا پېروي هم نهٔ ده کړې،بلکې دی ځانته خپل یو مزاج او اسلوب رغوی.

دغني خان دهغه مهال دفن ښکلې نمونې که څهٔ هم د دهٔ په ډېرو نظمونو کښې ښکاره دي خو د بېلګې په توګه یوډېر په زړهٔ پورې انداز ئې د ،، ازابیل ،،نومې نظم له یو څو اشعارو په رڼا کښې وړاندې کولې شي:

زما هېر به نهٔ شي ستا لبان ښائسته
نهٔ دسروزروپه شان زُلفان ښائسته
نهٔ خندا ستا غلې غلې زما خواکښې
ستا شنو سترګو به کړهٔ ټول جهان ښائسته
فرښته به وې دورځې دشپې حوره
چې دیدن له به دې جوړ کهٔ ځان ښائسته
هغه لاس په لاس زمونږد باغ سېلونه
هغه شین د ستورو ډك اسمان ښائسته (۱۸)

کله چې دی امریکې کښې مقیم وو نو ئې هم دهغه ځایٔ دښکلیو دحسن او نزاکت ډېر ښکلي او په زړهٔ پورې منظرونه وړاندې کړي.په لاندیني اشعارو کښې ئې دا طرز ته پام وکړئ:

تهٔ چې ښکلې بې بها ئې
زما دین زما دنیا ئې
ګلې تهٔ ګلِ لالائې
زماستوری دسبا ئې

شـــــوحېران پـــه خپـــل کـــــردار
چـــې ســـتا بـــت ئـــې کـــړۀ تيـــار
هغـــــــه لـــــــوئ پروردګـــــــار
ســـتا پـــه ســـترګو شـــو شـــېدا
بيـــائې کـــړه ســـتا پـــه جبينـــه
دســـــپوږمۍ ســـــپينه رڼـــــا (۱۹)

خوحسـن اوعشـق داسې ويړيـا او اسـانه مشغله هـم نۀ ده چې دې دهـر چا پـه برخـه وي او يـا دې هـر څـوك پـه اول نظـر سـره واخلي،بلکـې دايـوه عطيـه خداونـدي ده او دې کښـې ډېـره زړۀ سـتړيا ده.کـه څـۀ هـم پـه عشـق کښـې ډېـر کړاوونـه او مصـيبتونه پېښـېږي،ډېرې سـختې مرحلـې ورکښـې راځـي، ولـې هـر مصيبت ئـې ځانتـه پـه هـر پـړاو لـذت کـش محسوسـېږي،هر يـړاؤ ورکښـې دوا معلـومېږي،هر ګـام دمنـزل پـه لـور دارام پـوړۍ معلـومېږي،او هـر شـئ چـې خپـل کمـال تـه ورسـېږي،نو هلتـه تـرې اثـر وځـاځي،خو عشـق لـه اولـه تـر اخـره لذت بخش او لطف انګېز وي"(۲۰)

دښـکليو يـا دنـازنينو دنـازاو ادا،کـج اداګـانو زرنخـرې وي،کلـه وصـال،کله هجران،کلـه درقيـب پـه خواکښـې دعاشـق سـوځونه،کله پـه نـۀ څـۀ مرورتيا،ياپـــه ډك محفـــل کښـــې لـــه عاشـــق څخـــه بـــې پرواکېدنـــه،يا دکـــالونومرورمحض پـــه يـــوه زېـــر لـــب خنـــدا خوشـــحالول ، دا اودداســـې نورواداګانوپه سبب عاشقان تل دمعشوقودزلفوپه زنځير بنديان اوسي.

دحسـن او عشـق پـه دې مدرسـه کښـې دنوروعاشـقانو پـه څېـر غنـي خـان هـم پـه يـوه زمانـه کښـې دښـکليوپه دې دام کښـې کښـېوتی وو،ځکـه خـو ئـې له شعرڅخه دومره سوزوکرب او درد راځېږي.

پـه عشـق کښـې دهجـر او وصـال داصـطلاحات شـاعرانوپه بيلابيـل ډول اوډېـر پـه زړۀ پـورې اندازسره ئـې بيـان کـړي دي،ولـې غنـي خـان چې داپـه کـوم انداز سره بيانوي هغه ځانته يو انفراديت لري،لکه په دې اشعاروکښې.

هالـــه ياروتـــه نـــزدې شـــوم
چـــې ديـــاره شـــومه لـــرې

هلــه ئــې پــوهېږ شــوم پــه خبــرو
چـــې ئـــې نـــهٔ اورم خبـــرې
چـــې ملنـــګ شـــومه جانانـــه
خزانــــــه مـــــې ؤ موندلــــــه
چـې مـې ګـل بوسـتان قربـان کـهٔ
نودګـل بوسـتان مالـك شـوم (۲۱)

دهجراوفـراق داوږدو شپو خـو بـه هـر چـا بيـان کـړی وي يـا بـه تـرې نـه هـر څـوك پـه عـذاب وي ، ولـې غنـي خـان چـې لـه دې څخـه څـهٔ ډول پـه عـذاب شوی،هغه د دهٔ په دې اشعارو کښې ولولئ:

اوږدې شــپې دفــراق شــوې پــه جانــان يــادولو تېــرې
کــه وصــل نــهٔ شــته شــکر دی فريــاد خــو ئــې شــته
دغــم دمينــې غــم دی دخوشــحالۍ پــه شــان خــوږ دی
دغـم مالـك هـم خـان دی جائيـداد خـو ئـې شـته (۲۲)

پـه عشـق کښـې يـوائې دعاشـق او معشـوق قيصـه نـهٔ وي بلکـې ددې سـره دريـم تکـی د رقيـب هـم پـه يـو تـواترذکر کېږي،اوبـې چـاره عاشـق تـه رقيـب يـوائې هـر ځـائ خنډنـهٔ وي بلکـې دمعشـوق هـر کـج اداهـم پـه خپلـه رقابـت وي،خـود خوارعاشـق دزړهٔ ډاډ يـوائې پـه دا کښـې وي چـې چرتـه وصـل محبـوب ترلاسـه کړي،پرتـه لـه دې دهغـهٔ دزړهٔ بـل هـېڅ يـو ارمـان نـهٔ وي.دادوصـــل ،هجر،عاشق،معشـــوق اودرقيـــب دغـــه علامتونـــه غنـــي خـــان څهٔ په داډول احساس کړي دي:

يـــارمې واخيســـت رقيبـــانو لېـــونې شـــوم
عبـــث خلقـــه راولـــئ طبيبـــان مـــا لـــه
دامـــرض زمالـــه زړهٔکلـــه اوښـــکې شـــي
ماپـــه وينـــو دې لـــوئ کـــړې څـــو څـــو کالـــه
دامتـــل دې چـــې داوور عـــلاج پـــه اوور شـــي
نـــهٔ جـــوړېږم، نـــهٔ جـــوړېږم بـــې وصـــاله

چې اخر په ژړا خوار غني رخصت شي
ورله وشلوئ کفن ديار له شاله (۲۳)

خو غني خان چې دکومې تنهائۍ، دکوم وصال او یا دکوم عشق خبره کوي هغه هاغه عمومي عشق، یازمکنی وصال نهٔ دی چې دې دومره زر محسوس کړی شي، بلکې هاغه دیو باطني جهان لمبې دي چې ئې د لرې لید لرونکي او دژورفکر خاوندان ادراک کولی شي.

# حوالې

(11) ډاکټرمحمد اقبال نسيم خټک، خوشحال اوجماليات، (پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي ، ۱۹۸۷ء)، مخ۵۱
(2) حقيقت حسن، سعيد احمد رفيق په حواله،خوشحال او جماليات، از ډاکټرمحمد اقبال نسيم خټک،مخ۸۵
(3) حقيقت حسن په حواله ډاکټرمحمد اقبال نسيم خټک،مخ۱۳۲
(4) سيد ، عابدعلي عابد ،اصول انتقادِادبيات،(مجلس ترقي ادب ۲- کلب روډ لاهور،طبع دويم۱۹۶۶ء )،مخ ۳۲۶
(5) عبدالغني خان،دغني لټون،( فرانټيرپوسټ پبلي کېشنز، ۳۲ سټېډيم روډ پېښور، ۱۹۹۵ء) مخ ۱۱۴
(6) عبدالغني خان، پلوشې،کابل، ۱۳۳۹ هـ ش)،مخ۵۶
(7) لټون، مخ۱۲۶
(8) محمد لطفي جمعه ،تاريخ فلاسفته الاسلام،مترجم ډاکټر ميرولي الدين،( نفيس اکېډمي اسټريچن روډ کراچي،۱۳۴۵ هـ )،مخ ۲۶۰
(9) پلوشې، مخ ۲۰۲
(10) عبدالغني خان، دپنجرې چغار،( يونيورسټي بک اېجنسي خيبر بازار پېښور، ۱۹۵۲ء)، مخ ۸
(11) پلوشې، مخ ۲۵ – ۲۶
(12) دغني لټون، مخ ۱۱۸
(13) دپنجرې چغار، مخ ۱۴۱ – ۱۴۲
(14) پلوشې، مخ۳۰
(15) د پنجرې چغار، مخ ۱۴۹
(16) دغني لټون، مخ ۶۰۴
(17) ايضاً، مخ ۶۲۲

(18) پلوشې، مخ 11
(19) ايضاً، مخ 26
(20) پروفېسر محمد احسان الحق، اصول تنقيد ، ( علمي بك هاوس چوك اردو بازار لاهور، ۱۹۸۸ء،) مخ ۴۳۶
(21) پلوشې، مخ ۱۴۷
(22) ايضاً، مخ۱۹۱، -۱۹۲
(23) ايضاً، مخ ۵